Social Sceince
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

په پښتو ادبیاتو کې د ساینسفیکشن تطبیقاتو ته کتنه

پوهنیار نذیر احمد رښتینی[1*]، پوهنمل دوکتور نور احمد اپمل[2]
د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه، د ښوونې او روزنې پوهنځي، هلمند پوهنتون[1،2]
دمسؤل آیمیل آدرس : nazir.ahmad@helu.edu.af

ترلاسه سوې: ۱۴۰۳/۰۶/۰۵ منل سوې:۱۴۰۳/۰۶/۱۳ خپره سوې: ۱۴۰۳/۰۹/۲۰ دثبت کڼه: LSSAJ-1-1-03 مخونه (۳۹-۶۱)

لنډیز

ساینسفیکشن یو اروپایي ژانر دئ. دا ټکی په لومړي ځل ویلسن د نولسمي پېړی په اوایلو کې پخپل یوه کوچني کتاب کې راوړی دئ. ساینسفیکشن یو پاراډوکسي ترکیب دئ، چې له ساینس او فیکشن څخه یې تنه جوړه سوې ده. ساینس پر علمي تجربو او فیکشن بیا یو تخیلي او هنري سبک او توان لري. دغه مرکب لغت د تخیلي دنیا ازمایښتي ساینسي کوي. د دنیا ټول علوم پر طبیعي/ ساینسي Natural Science او ټولنیزو/ اجتماعي social science باندې ویشل سوې دي. د دوی ترمنځ تفاوت ډېر واضح دئ، لومړي یې له تجربو سرچینه اخلي او دوهم یې لکه خپل نوم په ټولنه پسې اړیکه لري، چې په ټولنه کې د انسانانو ترمنځ اړیکې او راسې درسي له مخې رامنځته سوې او پر شخصیت جوړونه متکي دي. دا څېړنه په پښتو ولسي ادبي پانګې کې د معاصرو ساینسي نظریو او پرمختګونو سره د خپلو تېرو تمدونونو او داسې افکارو سیالی ته تخصص سوې، چې هغه له دوی سره په یوه تله کې د اېښودلو توانایي لري. ددې معاصرو ټکنالوژیکي پرمختګونو تومنه له هغه پخوانیو اریایانو او خراسانیانو له خیال پردازیو او ابتکاراتو اخیستل سوې، چې دوی به د خپل ژوند د اسانتیاو له پاره بېلابېل ساده ماشینونه او وسایل جوړول. دا څېړنه د تشریحي- پرتلیز او کیفیي میتود څخه په استفاده په کتابتوني ډول کې بشپړه سوې ده. په دې کوچني تحقیق کې دا ثابته سوې، چې د پښتو د ولسي ادب داسې رنګین او زبردست اړخونه لا د تیاره افکارو په کوټونو کې د ژغندن سلګۍ وهي، چې هغه د نني ساینس سره د پرتلې او ورسره په څنګ د اېښودلو مقام لري.

کلیدي کلیمې: ساینسفیکشن، ولسي ادبیات، معاصري ساینسي نظرې

سریزه

له بابا ادمه تر دې دمه چې انسان د مځکې پر مخ خلق سوی دئ، نو یې سمدلاسه دا هڅه او تلاش کړی دئ، چې څرنګه د ژوند په چارو کې اساني او سهولت مهیا کړي.

اولني انسان چې کالي، خواړه، د استوګنې د ځای ځایګی او نوري بېلابېلي اړتیاوې حسولي، د هغوی د حل له پاره یې تفکر کاوه او حتی د حیواناتو له ژوند څخه یې ګټه اخیسته. د ژوند دا

پرمختګونه او د فکر طرزونه یې په ولسي ادب کې ساتل سوي او ممکن ځیني برخي یې د زمانو په پیچومو کې تالاترغي سوي وي.

د څېړني اهمیت

په پښتو ادبیاتو کې د ساینسفیکشن د تطبیقاتو په اړه څه ناڅه مطالب په متفریق شکل شنل سوي دي. په دې څېړنه کې تر ډېره د ملي هینداري د نکلونو او ځیني فارسي او انګلیسي متونو له محتوایاتو څخه کار اخیسته سوی دئ.

د څېړني موخي

په دې څېړنه کې به د ساینسفیکشن سره اشنا سو. په پښتو ادبیاتو کې به هغه نمونې چي ددې ژانر سره سر خوري هم را په نخښه کړو. د پښتو ولسي ادبیاتو هغه تومنه چي په معاصري ټکنالوژیکي پرمختیا کې ګډه سوې، هم وپیژندل سي.

د څېړني پوښتني

ساینسفیکشن څنګه ژانر دئ؟ په پښتو ادبیاتو کې داسي بولګې سته، چي د ساینسفیکشن سره سر وخوري؟ د معاصري ټکنالوژیکي پرمختیا په اساس کې کومي فولکلوریکي مفکورې ګډې سوي دي؟

د څېړني شالید

په دې برخه کې تر اوسه پوري د لعل باچا ازمون د (ساینسفیکشن او فولکلور او ادب او فلسفه) نومي اثر کې ځیني هیښمي لیدل کیږي. همدا رنګه نجیب منلی او اسد الله غضنفر هم پخپل ګډ اثر (د ادبیاتو دنیا) کې یو څو پاڼې په دې عنوان توري کړي دي. اما په فارسي ادب کې په دې رابطه زیات کار سوی دئ، چي زموږ په دې څېړنه کې هم د فارسي ادب د تمثیل له ژانر څخه تر ډېره کار اخیسته سوی دئ او په څنګ کې مو د ملي هینداري په هیندارو کې پسي کتلي دي.

د څېړني میتود

دا څېړنه د تشریحي- پرتلیز او کیفیي میتود څخه په استفاده په کتابتوني ډول کې بشپړه سوې ده. ددې څېړني په تکامل کې مو د پښتو ژبې د ولسي فرهنګ یا مرحوم استاد محمدګل نوري له ملي هینداري څخه تطبیقات را اخیستي دي او په څنګ مو ځیني معاصري نمونې او همدا رنګه د فارسي ادبیاتو له اثارو څخه هم ژباړي کړي دي.

ساینسفیکشن

ساینسفیکشن یو پاراډوکسي ترکیب دئ، چي له ساینس او فیکشن څخه یې تنه جوړه سوې ده. ساینس پر علمي تجربو او فیکشن بیا تخیلي او هنري سیک او توان لري. دغه مرکب لغت د تخیلي دنیا ازمایښتې ساینسي کوي.

د دنیا ټول علوم پر طبیعي/ساینسي Natural Science او پوهنیزو/اجتماعي social science باندې ویشل سوي دي. د دوی ترمنځ تفاوت ډېر واضح دئ، لومړی یې له تجربو سرچینه اخلي او دوهم یې لکه: خپل نوم په پوهنه پسې رابطه لري، چې په پوهنه کې د انسانانو ترمنځ اړیکې او راسه درسي له مخې رامنځته سوي او پر شخصیت جوړونه متکې دي.

که د لغت په اعتبار خبره وکړم، نو د ساینس بحث اوسنی او معاصر دئ، اما وجود یې پخوانی دئ. په لغوي لحاظ له دوو کلمو څخه رغیدلی نوم دئ. ساینس او فیکشن دواړه داسې د یو او بل ضد او پاراډوکسي نمونه دي، لکه تور او سپین چې یو د بل متضاد دي. څکه په پورته پاراګراف کې مو یادی څني وکړ، چې یو د تجربو او عملیو علم او بل د پوهنې له بطنه د خیالاتو او هنرونو پوه ده. ساینسفیکشن ادب دئ، یو تخیلي حرکت دئ، کیسه، داستان او حتی شعر ته وائي. فیکشن تخیل دئ، واقعیت نه دئ او فقط ساینس بیا پوه ده (ساینسفیکشن او فولکلور: ۱۳۷).

د یو شمیر ساینسي تجربو تر شا فیکشنونه سته. فکشن د ساینسي تجربو له پاره د فکر ور پرانیزي، پر همدې بنسټ ساینسفیکشن د عامه ذهنیت محصول ګڼل کیږي.

په اصطلاحي ډول ساینسفیکشن داسي واضح کولای سو، چې ساینس حقیقي او مادي بڼه لري؛ ساینس زموږ د چاپیریال یوه برخه ده، چې د انسان په ژوند کې مادي او حقیقي حضور لري.

د خالق تعالی د ټولو مخلوقاتو حقیقي بڼه ساینس راته راښیي، په مادي ژوند کې چې څه پیښیږي هغه ټول را سپړي او حقیقت ئې روښانه کوي او دا خو مشهوره او ډېره اوریدل سوې محاوره ده: (ساینس پر تجربه ولاړ علم دئ.).

فکشن بیا تخیلي افسانه ده، دغه تخیلي افسانه او هغه حقیقت چې مادي اړخ لري او د انسان په ژوند کې پیښیږي دا یو له بل سره یوځای کول یې پاراډوکس نومول کیږي.

د فکشن له یادوني څخه زموږ مقصد هغه تخیلي کیسې دي، چې د ادم له ژوند سره رامنځته سوي دي، اما حقیقت نه لري. فکشن ادبیات دي، د خلګو ذوق او د ژوند هنري تجربې راپیژني.

په فیکشن کې رنګارنګ ذوقونه، عواطف، احساسات او تخیلي اړخونه ورګډیږي، خو په ساینس کې د انسان د ژوند هغه تجربې او واقعي پرتې دي، چې حقیقت پکښې ظاهریږي.

فیکشن یوه داسي تخیلي افسانوي یا تجربوي حالت دئ، چې د انسان په ذهني پیاوړتیا او هنري توان پوري تړاو لري. په دې حالت کې پنځوونکی یا لیکوال پخپلې تجربې او کیسې کې داسې ورک وي، چې د هنري پنځوني پر ځای یې یوه ساینسي عملیه ترسره کړې وي، خو کله چې عادي حالت ته راځي یا را ویښیږي، متوجې کیږي چې هیڅ نه سته او قناعت کوي چې دا یو خوب او خیال وو. دا وضعیت د ساینسفیکشن دئ، څکه دی په هغو تخیلي تجربو یا افسانو کې ډوب وو،

چي يوه ساينسي تجربه يې کړې وه، خو کله چي له تخيلي حالت څخه را ووتئ، نو نه هغه تجربه وه او نه بل څه؛ دغسي حالت او هنري تلاش ته ساينسفيکشن ويل کيږي.
اوس نو که چيري ساينسپوهان دا هنري- ساينسي تجربې و حقيقي تول او ترازو ته واچوي او خپلي علمي عمليې پر وکړي او ساينس هغه ټکی په اثبات ورسوي، کوم چي ساينسفيکشن طرحه کړی وو، نو د فيکشن له قيد څخه وځي او د ساينس نړۍ ته پيژندل کيږي.
ساينسفيکشن تر ساينسي تجربو او حقيقي حالت مخکي هغه تخيلي او افسانوي تجربه ده، چي انسان طرحه کړې وي، خو حقيقت ته لا نه وي رسيدلې، اما کله چي يوه تجربه حقيقت ته ورسيږي، بيا نو له ساينسفيکشن څخه يوازي او يوازي د ساينس چاپيريال ته منصوبيږي.
ساينسفيکشن ته په فارسي ادبياتو کي علمي او تخيلي داستان او کله کله د فانتازۍ کلمه استفاده کيږي. دوی ځيني وخت د فانتازۍ کلمه په جلا مانا څيړي او داسي نظر لري، چي ساينسفيکشن بېل شی دئ، اما ځيني بيا دا دواړه مترادف معرفي کوي.
فانتازي د داستاني ادب تر ټولو ډېر تخيلي شکل لري. د فانتازۍ کلمه د اکسفورډ په قاموس کي د (Fantasy & phantasy) په جولو سره راغلې ده، چي يوناني ريښه يې داسي (Phantasia) ده او د هوس، خيالي نويتوب، تخيل او خيالي تفکر په معنا ده (فانتازی چيست و تاريخچه ان در ادبيات جهان و ايران: ٦٣).
د فانتازۍ او ساينسفيکشن تفاوت به داسي وکړو، چي په ساينسفيکشن کي له علمي توکو څخه کار اخيستل کيږي، هغه په دې وجه چي علمي توکي خاصي بصري جلوې رامنځته کوي، پر دې سربيره په دې ژانر کي له پرمختللو ټکنالوژيو کار اخيستل کيږي.
په فانتازۍ کي افسانوي مخلوقات يا ماورالطبيعي او جادويي قدرتونو څخه کار اخيستل کيږي، چي په واقعي نړۍ کي يې موږ نه سو موندلای.
ساينسفيکشن په کُلي ډول هڅه کوي، چي د مډرني ټولني توکي سره پرتله کړي او د هغوی د پرمختګ د څرنګوالي وړاندوينه وکړي، خو فانتازي له غير طبيعي توکو څخه کار اخلي، چي د اوسنۍ نړۍ سره هيڅ رقم سر نه خوري. مانا داچي ساينسفيکشن کيدای سي يوه ورځ په حقيقت بدل سي؛ لکه د داسي طيارې اختراع چي تر نور يې هم سرعت ډېر وي، مګر د فانتازۍ څخه بيا داسي توقع کول چي هغه دي په واقعي نړۍ کي په رښتيا بدله کړه سي، فکر نه سي کيدلای؛ لکه: د انسان الوتل. نو موږ ويلای سو، چي فانتازي يو تخيلي عمل دئ او علم ته اړتيا نه لري، خو ساينسفيکشن يو تخيلي عمل دئ، چي پوهي ته هم اړمن او د علم په واسطه حقيقت ته رسيږي.
د ساينسفيکشن په برخه کي افغاني ليکوالو هم خپل قلم چلولی دئ، مګر د دې ژانر له پاره کومه خاصه نومونه نه ده سوې، هر ليکوال د خپل ليدلوري په اساس يو نوم ورکړی دئ.

استاد لعل پاچا ازمون د ساینسفیکشن په باره کي ويلي دي، چي د ساينسفيکشن بحث اوسنی، خو وجود يې پخوانی دئ. له دوو کلمو څخه رغيدلی نوم دئ، ساينس او فيکشن. دا دواړه نومونه يو د بل ضد او پاراډوکس دي. فيکشن پخپله ادب دئ. ساينسفيکشن يو تخيلي حرکت دئ، فيکشن کيسه، داستان او حتی شعر ته وايي. فيکشن تخيل دئ، واقعيت نه دئ. ساينس بيا پوهه ده (ساينسفيکشن او فولکلور: ۱۳۷).

ايمل پسرلی د ساينسفيکشن په پيژندنه کي وايي: ساينسفيکشن د ټکنالوژۍ پر بنياد جوړ شوی داستاني ژانر دئ، هغه تصور شوي عناصر لري، چي په ريښتيني دنيا کي نه شته، په ساينسفيکشن کي بېلابيل موضوعات راتلای شي؛ لکه له اوسه څو پېړۍ وروسته ته تګ، فضا ته سفر او د ټکنالوژۍ او ساينس د پرمختګونو عواقب.

استاد نجيب منلی هم ساينسفيکشن هغه خيالي واقعيت ګڼلی دئ، چي د اوسني معلوم ساينس په چوکاټ کي منطقي وي (د ادبياتو دنيا: ۱۱).

د ساينس ټکی تقريباً په ټولو نظريو کي سره شريک دئ او په څنګ کي يې پر خيالي داستان باندي هم خبره سوې ده، چي دا ددې خبري څرګندونه کوي، چي د نني ساينسي واقعتونو تر شا په پخوا کي يوه نظريه موجوده وه، چي په هغه نظريه کي خيالي او تصوري بڼه ساينسفيکشن ګڼل کيده او که نن هغه په واقعيت بدله سوې وي، نو بيا د فيکشن شرط ايسته سوی او په مکمل ډول ساينس ته داخل سوی دئ.

دا د ساينسفيکشن اصطلاح ويليم ويلسن په سنه ۱۸۵۳ زيږديز کي په اول وار ياده کړه. دی په دې اند وو، چي د دا معلومو شيانو تر شا يو تصور او تفکر سته. ده په دې قناعت حاصل کړی وو، چي د علم حصول د تجربو په مټ انسان له عادي حالته باسي.

ويلسن د ۱۹مي زيږديزي صدۍ ليکوال دئ، ده د شعر په باره کي کوچنی کتاب کښلی دئ. (کوچنی کتاب د زړې غتي موضوع په باره کي) يې نوم پر ايښی وو. په اول چلي/ ځلي د ساينسفيکشن توری په دغه کتاب کي کارول سوی دئ. ويلسن زياتوي چي ټول علوم پخپل ذات کي داسي جوهر لري، چي هغه د يوې ښکلي شاعرۍ جهانونه دي. يعنی دی نظر لري، چي علم هغه څه دئ، چي زموږ په چاپيريال کي موږ له عادي ژوند څخه باسي (د ادبياتو دنيا:۳۸۰).

د ساينسفيکشن ټکی په داغه يا دې ته ورته املايي بڼو سره تر اويا کلونو پوري وکارېدئ. په ۱۹۲۷ زيږديز کال په يوه اخبار کي د يوه فرانسوي ليکوال ژول ويرين له پاره -چي علمي داستانونه يې ليکل- وکاريدئ، نوموړی يې د علمي داستانونو شکسپير بللی وو.

د علمي داستانونو څخه هدف دا وو، چي په دې ډول داستانونو کي به پر يوه موضوع په ډېره لوړه سويه علمي بحث کيدئ، چي دلته د ساينتفيک فيکشن اصطلاح رواج وه، خو دغه کليمه بيا ۱۹۴۰

زیزدیز کال کي د ساینسفیکشن په املایي جوله استعمال سوه. انګریزان یې پخپله املا کي سایفای کاږي. هغه په دې چي زموږ عصر د لنډیزونو عصر دئ او د ساینسفیکشن د توري څخه یوازي لومړي ږغونه راخلي او په لنډون سره د سایفای نومونه جوړوي او کاروي. د کره کتني ځیني مبصرین د سایفای کلیمه د ساینسفیکشن له اصلاح څخه په معنوي لحاظ کښته بولي او دا تر عامیانه او ولسي کچي پوري محدودوي (پښتو ادب او ساینسفیکشن:۳).

د ساینسفیکشن لومړني څرکونه

له اساطیري ادبیاتو څخه چي کله د یوناني ادبیاتو پر خوا حرکت راکوو، نو دلته په لسګونو داسي کیسه ییزي نمونې سته، چي نیمي علمي- منطقي او نیمي بیا د تخیل او تصور په رنګ رنګیدلي وي.

د ایکار او فتون داستان یې غوره بولګه ده. فتون د ایکار زوی دئ او دا خیال ور ولاړ سوی دئ، چي وزرونه دي وکړي او په هوا دي سي. پلار یې ایکار هم را ولاړیږي او خپل زوی فتون ته د لرګو وزرونه سازوي، په مومو یې پسي مښلوي او د الوتلو سبک ورکوي، مګر زوی ته یوه خبري کوي، چي هغه یې باید په غوږ کي ونیسي. دی زوی ته وایي چي ګوره! لمر ته مه نږدې کیږه، چي سوځوي دي او مړ به دي کړي.

فتون چي په هوا سو، نو د پلار خبره ځني هېره سوه او په الوت الوت کي لمر ته ډېر نږدي سو، چي د لمر وړانګو یې موم ویلي او دی بېوزرو کړ. د فتون چي وزرونه خطا سوه، نو شا یې مخکي ونیول، راشوه سو او سا یې وختل. چي دا کیسه د سایسفیکشن لومړنی څرک ګڼل کیږي.

د ساینسفیکشن په ابتدایه نمونو کي د یوناني ژبي د یوه سوریایي لیکوال لوکیانوس نوم هم یاد سوی دئ. د ده په اثارو کي د رښتیني کیسې په عنوان یوه کیسه راغلې ده، چي ځیني ساینسي او تخنیکي واقعیتونه د فیکشن یا تصوراتو په بڼه راغلي دي. لوکیانوس په دوهمه زیږدیزي پېړۍ کي ژوند کاوه. په یوه بله بولګه کي ساینتیفیک (راتلونکي واقعیتونه د لوړ هدف له پاره) کارول سوی دئ، یعني د ساینسفیکشن اولنۍ کیسه ددې په خاطر لیکل سوې، چي په عادي ادبیاتو کي ځیني داسي مفاهیم نه سي وړاندي کیدلای. تولنیز او کلیسایي/ مذهبي سانسور به دوني په زور کي وو، چي ځیني خبري به په عادي ژبه کي نه سوای کیدلای، نو په دغه وجه به ځینو لیکوالو یوه خیالي دنیا ترسیم کړه او په هغې خیالي دنیا کي به یې واقعیتونه جوړول، چي د دغو خیالي واقعیتونو طبیعي پایلي را وتلې. د توماس مور (یوتوپیا) په ۱۵۱۶ زیږدیزه سنه کي یوه غوره نمونه وړاندي کولای سو.

سپوږمۍ ته سفر او لمر ته سفر دا رښتیني کیسې د اولسمي پېړۍ د فرانسوي لیکوال سیرانو دبیر ژیراک دي.

انسان په سپوږمۍ کي د فرانسیس ګولډوین یوه رښتینې کیسه ده، چي په ۱۶۳۸ میلادي کال کښل سوې ده.

لوی فزیکپوه کیپلر هم په ساینسفیکشن کي قلم ازمایلی دئ، دی یوه کیسه لري. تر ده وروسته جان سویفټ انګریز قلموال د ګولیور د سفرونو په نامه کیسې لیکلي دي، چي دا د ساینسفیکشن بڼې بولګې دي. په اتلسمه صدۍ کي مشهور فیلسوف ولتیر د (کوچني ږغ) په نوم یوه کیسه وکاږل، چي د ساینسفیکشن ځانګړني پکښې لیدل کیږي.

په نولسمه او شلمه میلادي پیړیو کي دا ژانر واقعي بڼه پیدا کړه. په دې کلونو کي ژول ویرن تر ټولو مهم کس دئ. ځکه چي ده په لسګونه داسي داستانونه ولیکل چي د خپل وخت د علومو په اساس ساینس واقعیتي بڼه ورکړې ده. اوبتل سفر لومړی د ژول ویرن په کتاب کي را پیژندل سوی دئ. پنځلس تر شل کاله وروسته تخنیک هغه وسیله جوړه کړې او عملي جوله یې خپله کړې ده.

په بالون کي سفر د ښاغلي ویرن بله کیسه ده. نکل داسي وو، چي په یوه جزیره کي پنځه کسان را غتیږي او په دې جزیره کي د ژوند هیڅ امکانات نه سته. نو دی د حاضره امکاناتو په مرسته یو داسي تخنیکی وسیله جوړوي، چي د دوی ژوند اسانه کوي او دا تخنیکي وسیله عملاً په ټولنه تر دې مهاله پوري نه وي، چي دا د دوی تصوري جوړښت ګڼل کیږي.

همدا ژول ویرن سپوږمۍ ته سفر یو بل اثر لري، چي په هغه کي سپوږمۍ ته د انسان پر سفر بحث کړی دئ. ده انسان د سپوږمۍ تر مداره رسولی او بیرته یې سمدم ځمکي ته راکښته کړی دئ. په واقعي نړۍ کي هم تر ده وروسته په لومړي ځل اپولو فضا ته واستول سو. اپولو هم په سپوږمۍ کي ناسته ونه کړه، د سپوږمۍ پر مدار ورڅرخیدئ او بیرته ځمکي ته راکښته سو. تر دې وروسته چي د اپولو عکسونه ځمکي ته ورسیدل نو بیا انسان سپوږمۍ ته وختئ. د ژول ویرن نوم د ساینسفیکشن له ژانر سره تړلی دئ.

د ۱۹۵۰ زیږدیز کال څخه را په دې خوا ساینسفیکشن ډیره وده کړې ده او بېحسابه کیسې په دې مضمون کي کښل سوي دي (د ادبیاتو دنیا: ۳۸).

د پښتو ادب او ساینسفیکشن خپلوي

ساینسفیکشن بهرنی ژانر دئ، پښتو ژبې ته په اول وار د ژباړي له لاري راغلی دئ. که څه هم دا ژانر په ولسي ادب کي په ځاني ځان ظهور کړی دئ.

منشي احمد جان په ۱۹۰۷ زیږدیز کال د توماس مور یوتوپیا اثر پښتو کړی دئ.

په معاصرینو کي بل کس عبدالباري جهانی دئ، چي د ایکار او فتون پخوانۍ یوناني اسطوره یې په ډېر ښکلي، روان او خوندور انداز په پښتو نظم اړولې ده.

ښاغلي نجیب الله منلي او ډاکټر اکبر وردګ په ګډه د چترۍ په نامه کیسه له فرانسوي ژبې څخه خوږې پښتو ته ژباړلې ده. په دې کیسې کي کیسه داسي ده، چي ښارونه د ربوټونو لخوا کنټرولیږي او د انسانانو ژوند د هغوی لخوا تر څار لاندي نیول کیږي.

ښاغلي حبيب الله رفيع د نخشب سپوږمۍ او لاسي نجلۍ اثار د ساينسفيکشن غوره نمونې دي (د ادبياتو دنيا: ۳۸۰).

د ښاغلي نصير احمد احمدي جوجو ناول او د ښاغلي محب الله زغم په جنت کې دوږخ هم د ساينسفيکشن دوې داسې بولګې دي، چې د پښتو پخپل کالبوت او روح کې ليکل سوي او پنځول سوي اثار دي.

لکه څنګه چې مو مخکې خبره وکړه، ساينسفيکشن د پښتو ادبياتو په نظم او نثر دواړو کې ملبس سوی دئ، نو ځکه به د ښاغلي حمزه شينواري څو بيتونه هم را واخلو چې دا ژانر پکښې طرحه سوی دئ:

دايره ګرد فلک يوه نقطه شي

د حمزه چي سر د فکر په زنګون شي

په پورته بيت کې هندسي او جغرافيايي پوهي را اخيستل سوي او دا نړۍ يې لکه يوه دايره ښوول سوې ده.

د ادب او ساينس خپلوي

ساينس او ادب يو پر بل اغيز درلوداى سي، د مثال په ډول کله چي ساينسي پرمختګونه او ټکنالوژي رامنځته کيږي، نو داسي ډيري کليمي، اصطلاحات او محاورې سته چي زموږ ژبه ځني اغيزمنه سوې ده او هغو کليمو زموږ په ملي ادب کي خپل رنګ و روغن ښکاره کړی دئ.

پر ادبياتو د ساينس اغيز

ساينسي تجربو د انسان ذهن غښتلی کړی دئ. د انسان ذهن يې له يوې رنګيني دنيا څخه اګاه کړی، د مرفع ژوند تصور يې ورکړی دئ. داغه تجربو ښکلاييز ذوق له طبيعت څخه په پيښه په نوو ايماژنو او تصويرونو کي په بله بڼه وړاندی کړی دئ، چي دا بڼه ادبي ده.

دا عصر د ټکنالوژۍ عصر دئ، چي ادب په سيده يا ناسيده ډول ځني متاثيره سوی دئ. نوي ساينسي نوموني، حرکات او جولې د ذهني تجربو له لاري نورو اشياو سره ګډ سوي دي، چي ددې دواړو يا څو شيانو ترمنځ بيا همرنګي، خپلوي، مناسبت يا ټکر و تضاد څخه خيال او تصور جوړ سوی دئ.

د ښاغلي پير محمد کاروان په شعر کي ټليفون ياد سوی دئ. دی د ټليفون له لاري خپل احساسات شريکوي او خړوبوي. ټليفون د نوي ټکنالوژۍ يوه نمونه ده، چي بريښنايي چلښت لري او د انسانانو ترمنځ د نظر د تبادلې، د روغ ناروغ او ورځني ژوند په باب يو بل سره په خبروي.

د ښاغلي کاروان صاحب د شعر څو انتخابي بيتونه دلته راوړو:

ډيليټ

په ټیلیفون کې چې د A جدول راوړومه
نو ستا نامه په کـــــــې اول راځـــــــي
سترګو ته دوه ځاځکي د اوښکو راځي
له زړه مې سل چیني د ګل راوځـــــــي
د ټیلیـــــــفون تنـــــــې مې کېـــــــکارېله
زما اواز تر تا در ورسیـــــــــــــــــدو
تا یې پر ستوني باندې پښه کېـــــــښوده
زما په زړه کې دې تېره ماته ښیښه کېښوده
ما درته څومره سلامـــــــــــــــونه وکړل
خو تا یوځلي هم علیـــــــــــــک ونه وې
په مرحبا، مرحبا ستـــــــــــــــړی شومه
جانانه تا راته لبیـــــــــــــــــک ونه وې
په ټیلیفون کې مې چارج ختم، کریډیټ تمام
شو

لکه شاهین پنجو کې وړی کـــــــوتر
سور مې د زړه په وینو سپین سلام شو
د کمپیوټر تر خنـــــــګه کېـــــــــــــناستمه
په MSN کې مې ONELINE ولیدې
نو مې یو سور ګلاب در ولـــــــــــیږلو
ما وې چې ته مې ګوندې هم په سره ګلاب
وولې
خو تا د سره ګلاب د پاسه چلیپا راښکله
تېره چاړه وه پر مرۍ چې تا زما راښکله
ما وې په وینو سور یو ګلاب در ولېږمه
خو ته OFLINE ښکارېدې BLOK دې ومه
(د ادبیاتو فلسفه:۹۷)

پر ساینس د ادبیاتو اغیز

ادبیات د اولس شتمني ده. چیرې چې انساني ټولنه اباده وي، هورې به حتمي ادبیات په یو ډول د ډولو وي. ساینس هم د انساني تجربو او ډېرو اوږدو کلونو او پیړیو د خواریو او زحمتونو پایله ده، چې واقعي نړۍ ته په پخه بنه وړاندې کیږي. نو دا دعوه هم کولای سو، چې د ساینس په نطفه کې د ادبیاتو وینه ګډه ده. ساینس د روز ازله څخه له ادبیاتو اغیزمن دئ.

د کیمیا بوټي، ولسي طبابت، زراعت، انجنیري او نور ټول زموږ په ولس کې د دهقانۍ، معمارۍ، نجارۍ، حجارۍ او نورو کسبونو په نومونو سره په ولسي فرهنګ او فولکلور کې خپل خاص اسباب او وسایل درلودل، چې د کلونو کلونو او حتا پیړیو پیړیو زحمتونو او تجربو په ګاللو سره نننۍ معاصر شکل او تدریجي تکامل ته د رسیدو په حال کې دي.

هغه څه چې زموږ په ټولنه کې اساطیر باله کیږي، پخوانو ته سوچه حقایق ایسېدل او دا یې یقین هم وو. پر اساطیرو چې باور ختم سي، نو د خرافاتو مقام خپل کړي، خو د شلمې پېړۍ په حدودو کې چې ټولنیزو علومو په بې ساري ډول پرمختګ او وسعت وکړ، نو ځینو پوهانو اساطیرو ته د مخکنیو زمانو خرافات نه، بلکې د فکر کولو یو طرز وایه.

پر دې خبرې دپاسه بیا هم موږ د فکر دا طرز نه خپلوو، ځینې نور کسان تر دې مخته ولاړل او اساطیرو ته یې د ټولنیز تفکر مقام ورکړ او دا یې وویل چې په اوسنۍ زمانه کې فردي فکر عام سوی دئ، خو پخوانو ددې برعکس جمعي فکر کاوه، چې د ډېر اهمیت وړ وو (د اساطیرو سیوری: ۸۵).

همدا زموږ د کورنیو مشرانو، زړو او پخوانو او حتی اوس هم په لیرو اطرافي سیمو کې چې له معاصرو ټکنالوژیکي او ساینسي هوساګلیو لیرې او یا ورته ګراني دي، ډېر ولسي چال چلند د ژوند د ستونزو د لیرې کولو له پاره مهیا کوي.

پخوانیو انسانانو پر دښتي او غرني ډول ډول بوټو او ګیاو باندې تجربې کړې دي، چې دداغو بوټو او ګیاو څخه په لاسته ورغلو ترکیباتو او ګډیدو باندې یې د خپلو سختو ناروغیو اعلاج کاوه. په ستورو کې یې فکر کاوه، د لارو د معلوملو له پاره یې د اوسني GPS کار ځني اخیستی، ورځې، شپې او کلونه یې ځني ټاکل، همدارنګه تر همدې اوسه پورې په لیرو پرتو سیمو کې اناګاني او نیکونه د لمر د سیورې څخه د ورځې د وخت حدود ټاکي.

د جنګ جګړې اسباب، د روغې جوړې غوره جرګې او فیصلې، د ډېرو، لرګیو او نورو توکو څخه یې د ژوند لوازم او سهولتونه رامنځته کړې دي. په طبیعت کې په پوره پام سترګې رغړولې دي او په د خالق تعالی په هر مخلوق یې کې ښه فکر کړی دئ او د هر څه په باب یې خپله انساني هڅه او جوړښت چې د دوی په خیال ورغلی ظاهر کړی دئ.

په دې ډول پخوانیو انسانانو د هر علم مبادي او اساس ایښی دئ، د طب، نجوم، بیولوژي، ژیولوژي، قوانین، صنایع، عقاید، اقتصاد، ادبیات، موسیقي، سپورټ او ډیرو علومو او فنونو ابتدایه او اولني فکرونه یې ایجاد کړې دي، چې بیا وروسته وروسته دا هرڅه ساینس ثابت کړې دي.

په پښتو ادبیاتو کې د ساینسفیکشن بولګې

ساینسفیکشن د یوې ادبي موضوع له پاره نوې نومونه او اصطلاح ده. پښتانه پخپل ملي ادب کې د ساینسفیکشن پر شرایطو برابر داسې پخوانۍ نمونې لري، چې سل په سل کې د پښتانه روح څخه راوتلې؛ په دې کالب کې ځایږي او ټول شرایط ئې پوره کړې دي.

د علومو مور فولکلوریک افکار او زیار دي، چې هر علم له دې فولکلوریکې فسلفې د یوه جلا علم په ډول د پیړیو پیړیو تجربو څخه وروسته د پختیا ثمرې ته رسیدلی دئ. داسې نو چې د هر علم تهداب او بنسټ پسې ځراغ را واخلې، د فولکلور غیږې ته پنا وړي.

موږ د ساینسفیکشن داسې غوره بولګې پخپلو فولکلوریکو اثارو کې لرو، چې د سیمې ادبیات ئې سیالی نه سې کولای. په ملي هینداره کې زموږ د ملي ادب ډیره لویه ذخیره ساتل سوې ده، استاد

محمد ګل نوري (پر ګور يې نور) د يوه پښتني احساس په وجه دا ملي اثر راټول کړی او ډېره خوږه، روانه، ولسي او عاميانه پښتو يې د پښتنو مخته ايښې دئ.

په ملي هينداره کې د دې اروپايي ژانر (ساينسفيکشن) نمونې کتل سوي دي او دلته يادونه ځني سوې ده.

په ولسي ادب کې د بې هوشۍ ماده

په ملي هينداره کې زبرباني شاپېرۍ په نوم يو نقل سته. په څو جملو کې به دا نقل را لنډ کړم: يو باچا يوه ډېره نازولې لور لري. کله چې د باچا دا لور پيغله سي، نو باچا د خپلې لور واده غواړي، خو لور يې يو شرط ايږدي، چې له داسې چا سره واده کوي، چې د زبرباني شاپېرۍ غوږې ورته راوړي، ځکه دا ددې غوږو له کماله خبره سوې ده.

باچا اعلان کوي او دا شرط هم ورته وايي، چې که چا په سر ورسوئ، نو هغه به د باچا زوم او د شهزادګۍ مېړه وي. دې اعلان ته خورا ډېرې ځوانان راځي او د شرط د پوره کولو هوډ کوي، حتی د وزير زوی هم په دې سرګردانه سفر ځي، خو ناهيلی او خالي لاس راستنيږي.

يو ګوروان د کلک هوډ سره دا ستونزمن سفر ته ملا تړي. او د وزير د زوی په مرسته باچا ته وايي چې دا شرط زه پوره کوم او باچا هم د شپږ مياشتي وخت په ورکولو سره ګوروان رخصتوي.

ګوروان له ښاره وځي، تر ډېر مزله وروسته يوې بلې باچاهۍ ته رسيږي، هورې د يوه چمیار/ موچي سره شاګرد کيږي. د موچي په کاروبار کې د ده په راتګ سره ډېر پرمختګ راځي، د موچي د پخوا په پرتله څو چنده عايد زياتيږي. موچی او مانيه يې د ګوروان سره په مشوره خپله لور ورته په نکاح کوي. يوه ورځ ناګهانه موچي ګوروان په ژړا او يوه غمجن حالت کې ويني. موچي له ګوروان څخه پوښتنه کوی، چې څه کيسه ده؟ ګوروان په ګلیمن انداز سره ورته وايي، چې دا شپږ مياشتي تېرې سوې او تا هيڅ پوښتنه نه ده راڅخه کړې، چې زه له کومه ځايه او د څه له پاره دلته راغلی يم. موچي هم دستي پوښتنه ځني کوي، چې څنګه دې ښار او باچهۍ ته راغلی ئې؟

ګوروان د وزير د زوی سره د اشنا کيدو او د باچا د لور د واده د شرط او زبرباني شاپيرۍ د کوڅيو د غوږو په اړه د الف څخه تر يا پوري ټوله کيسه کوي.

موچي هم خپل د کلونو کلونو راز ورته وايي، چې زه هم د اجدادو څخه دبب يم، خو اوس د ادم زاد په بڼه ژوند کوم، زما عمر سونه کلونه دئ او د څو سوو کلونو د مځکي مزلونه مي پر پای دي، خو ما تر اوسه زبزبانه شاپيرۍ نه ده ليدلې، خو ته راځه زموږ مشر دبب چې هم سونه کلونه عمر لري او هم يې د سونو کلونو د مځکي مزلونه پر پای دي، د هغه سره به دي اشنا کړم، ګوندي چې وي هغه څه معلومات درته درکړي.

لنډه داچې ګوران د موچې پر لاس یوه مشر دېب، د هغه پر لاس بل مشر دېب او بالاخره داسې یوه دېب ته ورځي چې د هغه عمر شپږ سوه کاله دئ او د کوه قاب په غره کې استیږي، هغه ورته وایې چې د دغه غره و شاته د شاپېریانو باچهي ده، زه نه سم ورتلای، د دوی د نور وړانګې مې سوځوي او وژني مي، خو داسې به وکړم چې تا به د غر څخه ور واړوم، ته به هغې خوا ته ولاړ سې، زه به د غره په سر کې درته انتظار سم، که چیرې ستونزه درته پیښه سوه او زما وس په رسیدئ، مرستی به دې سم.
ګوروان هم د غر و شاته تر مزل وروسته یوې داسې ودانۍ ته رسېږي، چې پای یې مځکې او سر یې اسمان رانیولی دئ، پر ودانۍ شاوخوا را وګرځیدئ مګر د ور ننوتلو هیڅ لار یې نه کړه، بالاخره ودانۍ ته د میریانو پر غار یې څو ورځې ستونزمن کار وکړ او ودانۍ په داخلیدو سره یې پر یوې ښځې سترګې ولګیدې، چې دا د شاپیریو په ملک کې یوازنۍ انسانه ده. د هغې په مرسته یې د هغې د لور ګل خنداني شاپیرۍ سره واده وکړ، ګل خندانه یوازینۍ شاپیرۍ ده، چې د شاپیریانو له شاه زبزناني سره په دربار کې د لیدو موقع لري.
ګوروان د وروستي دیب له تحفې (یوه خولۍ یې ورکړې وه، چې پر یې کړي بیا یې څوک نه سي لیدلای.) په استفاده، کله چې ګل خندانه دربار ته ځي، پر تخت ورسره کښیني او خولۍ پر سر کوي، په دې ډول یې زبزباني شاپیرۍ ته ځان ورسوئ او د هغې سره یې وداه وکړ؛ ګل خندانه او زبزبانه دواړه د ده مایني دي او ښه یې ساعت ورسره تېر دئ.
یوه ورځ یې خپل اصلي کار ته فکر سو، نو یې دوی ته عذر وکړ، چې دیغت زور پر کړی او غواړي چې یوار بیا د ادم زادو باچهۍ ته ولاړ سي، هغوی هم خبره ورسره مني او ده ته یوه یوه سارنګۍ ورکوي، چې که ستونزه ورپېښه سي، نو دستي د روه به ځان د لښکر سره ورته حاضر کړي.
ګوروان له دوی رخصت اخلي، او چې کله د انسانانو باچهۍ ته رسیږي، نو تر ښار دباندې پخپل پخواني ځای یا ګورم کې پاتیږي او چې سهار سي نو سارنګۍ ږغوي او په هغه دمګي شاپیریاني او لښکر ورته حاضریږي او د خدمت غوښتنه ځني کوي.
ګوروان زبزباني شاپیرۍ ته دوه بوتلان ورکوي او د هغې څخه د دې د کوځیو د تیلو/ روغنو غوښتنه کوي، چې زبزبانه شاپېرۍ هم ببله ځنډه بوتلان ورته ډکوي او دی رخصت ورکوي او باچا دربار ته حاضریږي او تیل/ روغن ورته تسلیموي، چې لومړی د روغنو په بوی باچا او بیا یې لور شهزادګۍ په بیده کیږي (ملي هینداره: ۵۳- ۷۲).
دا بولګه د معاصر طبابت له پاره یو فولکلوریک یا ولسي اساس تشکیلوي، چې د زبزباني شاپیرۍ د کوځیو په غوړو کې د بیسدتیا او بېهوشۍ اثر پروت وو.

په پخوا وختونو کې به چې څوک داسې ناروغ یا ټپي سوه، چې جراحي عملیات به یې غوښتل نو به ټپي کس ته بېله نشې او انستیزۍ څخه عملیات کېدل، چې ډېر به ستونزمن ول، مګر نن په معاصر طبابت کې تر هغو جراح ډاکټر دا کار نه کوي، تر انستیزي ورته ورنه کړي سي او ناروغ ته د تکلیف رسیدو څخه مخنیوی نه وي سوی.

دا مفکوره د ساینسفیکشن سره سر خوري، د وختونو په تېریدو سره د فیکشن له قیدیت څخه په مطلق ساینس بدلیږي.

په ولسي ادب کې د انسان د جوړښت نظریه

د زبرباني شاپیرۍ په نقل کې یوځای لولو: ((... دوې کوترې راغلې په حوض کې لمبیږي، ګوروان سم پسې راغلئ، چې دوی کالي او پرجامې [پرجامه د شاپېریانو هغې مخصوصي جامې دي، چې هرکله دوی د انسان په بڼه کیږي، نو یې اغوندي.] وکښلې...)) (ملي هینداره: ۵۹).

او دا رنګه د موچې په اړه ویل سوي وه، چې دی هم په خته دېب دئ، خو اوس د انسان په بڼه اوښتی دئ. یوه نړئواله مفکوره هم داسې وه، چې د نننې انسان لومړی بڼه د بیزو په ډول وه، چې بیا وروسته وروسته دغه اوسني حالت ته راستون سوی دئ.

د ډاروین یوه نظریه داسې وه، چې هر ژوندی ساه دار له ساده بڼې څخه په پیچلې بڼې اوښتی دئ، له خزنو څخه الوتونکې او له څارویو څخه انسان متشکل سوی دئ (۴۶: ۱۳).

په ولسي ادب کې د رُباټ جوړوني مفکوره

د مرحوم نوري په ملي هینداره کې د جلات خان او شمایلې –د جلات خان او محبوبې په نوم هم یادیږي- نقل ګورو، چې د یو غریب سړي دوه زامن او یوه یې مانېه وه. د مشر زوی نوم یې خونکار او د کشري زوی نوم یې مسلم ولو. دوی د ورځې دامونه ږدي او د شپې کور ته راځي، خو د غریبۍ شپې او روځې تېروي. یوه ورځ یې تکل وکړ، چې زه به غر ته خیږم، له هغه ځایه به یا موږ راځم یا مړ. دی غره ته ځي، هلته یوه سپینه هګۍ پیدا کړه، کور ته یې راوړه. مانېه یې ورته وویل چې ښار ته یې یوسه، خرڅه یې کړه له هغه ځایه به یوه ګوله ډوډۍ په راوړې. کله چې ښار ته ځي، دوکاندار ته یې ښیي، هغه ورته وایي زه ددې هګۍ قیمت نه لرم، صراف ته یې یوسه، بیا یې یو صراف ته ور وړه، هغه هم ورته وویل چې د رانیولو توان یې راپوري نه سته. بالاخره دی د ښار یوه سېټ ته هګۍ وروړي او هغه ورته وایي چې په څو ده، دی پخپل فکر کې غواړي چې ډېري پسې ورته ووایي، نو درې سوه نرخ ورکوي.

اوس نو دی هره ورځ غره ته ځي او یوه یوه هګۍ پر دې سېټ خرڅوي. څه موده وروسته له دې کار څخه خسته کیږي او د مانېې سره په مشوره دا مرغه کور ته راوړي او دلته هګۍ ورته اچوي او

خرڅوي ئې. یوه ورځ د سړي اجل پوره کیږي او مري. اوس نو دا کار د ده و عیال ته په میراث پاته کیږي، اولادونه یې هم هره ورځ یوه یوه هګۍ ښار ته وړي او پر سېټ یې خرڅوي، اوس نو دوی ښه په غوره کې دي، ناداري یې ختمه کړې او د هستۍ خاوندان دي.
یوه ورځ ددې هلکانو میره ورته وایي، چې دا سېټ ته ووایه چې زموږ میلمه یې. سېټ ورته وایي چې په یو شرط درځم، هغه دا چې دا مرغه به راته پخوئ او هیڅ یوه ټوټه به بل چا ته نه ورکوئ.
هلک هم کور خبره راوړي او هغوی ورته وایې چې همداسې کوو.
مینځه یې په غلا د مرغه سر او زړه خونکار او مسلم ته ورکوي، کله چې د سېټ مخته غوښه کښېښول سي، د مرغه سر او زړه نه وي، نو دی خوابدی کیږي او له میلمستیا څخه ځي. په دې وخت کې مینځه خونکار او مسلم ته وایې، چې میره مو وهي، هلئ ولاړ سئ.
خونکار او مسلم دوې پښې دا او دوې نوري کړې، هله هله وېوهله، تر ډېر مزل وروسته د یوې درختې سایې ته دمه سوه. یو وخت چې مسلم سر راپورته کړ، که ګوري خونکار مړ سوی دئ، دی وارختایي واخیستئ، چې هلک به څوک ورسره ښخ کړي. تر لږ مزل وروسته پر یوې ډلې خلګو پېښ سو، د هغو باچا مړ دئ، باز یې ایله کړی چې د چا پر سر کښېني هغه به باچا کوي، باز څرخونه خوري او درې واري د مسلم پر سر کیښني. مسلم باچا سو.
د خونکار پر برابر په هوا کې مرغان تیریږي، که ګوري چې یو ښایسته ځوان مړ پروت دئ، دوی ورته راکښته کیږي، یو مرغه وایي چې دا نه دئ، د درختې بلګ په خوله کې ورشوه کوي، خونکار یې ژووي اوبه یې تېروي او ژوندی کیږي. دی تر لږ مزل وروسته پر یوې ډلې خلګو پېښیږي، چې باچا یې مړ دئ. دوی هم باز ایله کړی دئ، باز څرخونه خوري او درې چلې د خونکار پر سر کیښیني. اوس نو مسلم یوځای او خونکار بل ځای باچهي لري، (دا تاثیر د هغه مرغه د سر او زړه په خوړلو کې وو، چې هغه سېټ هم په پوهیدئ.)
اوس نو دواړه یو په بل نه دي خبر، د خدای کړه دي د بنده کاته. د مسلم زامن کیږي او د خونکار لوڼې. خونکار خپلې لوڼې وژني، خو ماینه یې یوه لور د خونکار په پټه مزدوري ته ورکوي، هغې ته وایې دا وساته او لویه یې کړه. کله چې نجلۍ پیغله سي، خونکار وایي دا نجلۍ هیڅ چا ته نه ورکوم، ترڅو زما شرطونه پوره نه کړي. په دې مابین کې د مسلم زامن خبریږي او له خپلې پلرنۍ باچهۍ څخه را رهي کیږي او هر یو چې شرط پوره نه کړي، نو هغه وژل کیږي. بله ورځ جلات خان راځي او د شهزادګۍ د لیدو له پاره د له لرګیو څخه زمری جوړوي او د زمري په نس کې کلا ته ننوځي. د هغې دیدن یې حاصل کړ او سره جوړ سوه. شهزادګۍ هم هغه شرطونه یو په یوه ورته وویل چې څه ډول یې پوره کولای سي (ملي هینداره: ۱۳۴-۱۵۱).

نقل اوړد دئ. دلته به د ساینسفیکشن ټکی واضح کړو، په هغه وخت کې چي د نني ربوټ په ډول هیڅ سهولتونه او امکانات نه وه، مګر بیا هم داسي یو تفکر وو، چي په مرسته یې ناحله او ستونزمني چاري پر مخ یووړې.

د یو بت جوړول او د هغه په مرسته کور ته داخلیدل، دغه پیښه د ساینسفیکشن تهداب دئ. اوسنی ربوټ چي ډیر وزن لرونکی، ډیر سخت او داسي کارونه کوي چي انسان صحت او ژوند ته خطر پیښوو، لکه: د اټومي وسلو جوړول. دا ربوټونه په معاصری پرمختللي ټکنالوژۍ سمبال او ددې ټکنالوژۍ په مرسته کنټرولیږي.

په ولسي ادب کې د جي پي ایس (GPS) مفکوره

د جلات خان او شمایلي په نقل کې یو داسي ټکی هم راغلی وو، چي جلات خان له میرېانو او زمریانو سره نیکي کړې وه، نو هغوی هم د دې نیکۍ په بدله کې جلات خان د خپلو بریتونو څخه یو یو تار ورکړی وو، چي که په هر ځای کې مشکل درته جوړ سو، دا تارونه دود کړه، موږ به هوري ځانونه ستا خدمت ته حاضر کړو.

دغه د بریت سوځول یا دودول عیني د نني جي پي ایس دنده مخته وړل، یعني په دې سره میرېانو او زمریانو د ده پته او ځای و ځایګی ځانته معلوملای سوای. دا د ساینسفیکشن یو داسي نمونه ده، چي نن د یې د فکشن مختاړی غورځولی او یکلوخته په ساینس کې دا مفکوره کار امده سوې او پیاده سوې ده.

په ولسي ادب کې د ریموټ کنټرول مفکوره

د ولسي ادب داسي ډیر نمونې لرو، چي ډیری وختونه د شهزاده او شهزادګی په واده کې یوه ستونزه پیښه سي. هغه داسي چي شهزادګی د خپل ښایست په وجه د دېب لخوا وتښتول سي. دېب یې هم پر ښایست مین کیږي.

د شهزاده او شهزدادګی واده وي، خو په دې وخت کې دېب شهزادګی ویني، پر مین کیږي او له ځانه سر یې بیایي او له دې شهزادګی سره واده کوي. شهزادګی بله لاړ نه لري مجبوره کیږي چي دېب سره ښه چلند وکړي.

په دې وخت کې شهزاده هم ننګ کوي او پخپلې شهزادګی پسي وځي. په دې لټون کې یو ملنګ د کوه قاف پته ورکوي او دی هم شهزادګی ته په ډیری اسانۍ سره رسیږي.

د ورځي دېب په کار و روزګار پسي وځي، دی له خپلي شهزادګی سره ویني او دې ته وایي چي په ناز و کرشمه د دېب څخه د ده د مرګ راز وپوښته، چي په اسانۍ سره یې مړ کړو او خپلي سیمي و باچهی ته ولاړ سو.

شهزادګی هم په چل ول د دېب د وژلو راز پیدا کوي. د دېب وژل د یو طوطي له وژلو سره رابطه لري. هغه طوطي په یوه څاه کي بند وي، شهزاده طوطي پیدا کوي. شهزاده چي د طوطي هر اندام ماتوي، اوتومات د دېب هغه اندام ماتیږي. دی اول وار د طوطي چپه وزر ماتوي او بېلوي، چي د دېب چپه لاس ماتیږي. بیا دی د طوطي راسته وزر ماتوي او بېلوي چي د دېب راسته لاس ماتیږي، د طوطي له چپه پښې سره د دېب چپه پښه، د طوطي له راستې پښې سره د دېب راسته پښه او بالاخره چي د طوطي سر یې غوڅ کړ، دېب هم غوځار او مړ سو.

دا د ریموټ کنټرول هغه پخوانی ولسي فکر دئ، چي پېړۍ پېړۍ مخکي په فولکلوریکه بڼه راڅرګند سوی او سینه په سینه تر نن ورځي پوري را رسیدلی دئ. مګر د نني ټکنالوژیکي پرمختګ سره په رښتیا هم داسي بریښنایي وسایل جوړ سوي دي، چي د هغه د څو بټنانو په مرسته یو لوی جوړښت کنټرولیږي، حتی موټران او ډیر وسایل. په دې وروستیو کي مو ولیدل چي د چاودیدونکو توکو پټاونه هم ددې ریموټ کنټرول په مرسته کیدل (فرهنګ سیاسی در ادبیات تمثیلی ایران و جهان: ۱۰۴).

په ولسي ادب کي ستوري پېژندنه

د سپوږمۍ او ستورو په اړه په فولکلور کي خورا زیاتي مفکورې سته. یوازي ستوري او سپوږمۍ نه، بلکي لمر هم دوی ته خپل خاص تعرف لري.

د لمر د راختلو او لوېدلو سره وختونه بدلیږي او رابدلیږي، د کال موسمونه اوړي را اوړي، دا رنګه د سپوږمۍ له کوچنیوالي او لویوالي سره میاشتي اوړي راوړي. د مځکي د حرکت له مخي ساینس دا په ثبتوت رسولې ده، چي د وضعي حرکت ورځ او شپه او انتقالي حرکت د کال څلور موسمونه منځته راوړي.

دا رنګه د ستورو ترمنځ خپلمنځي توپیرونه سته، ځیني پخپل منځ کي فاصلې لري، ځیني بیا ګیډۍ او سره راټول وي او نور بیا یو خاص شکل جوړ کړی وي، چي زموږ په فولکلور کي دا ستوري خپل خاص نومونه لري؛ لکه انا او کنۍ او نور ...

اولنو د شپې د ستورو د لوېدلو تعبیر داسي وکړ، چي هر انسان په اسمان کي یو ستوری لري، کله چي دا انسان مري، نو یې ستوری هم له اسمانه لویږي؛ لکه وایي: پلانی نه پر اسمان ستوری لري، نه پر مځکه سیوری

دغه نظریې او ولسي ستورپوهنه ده، چي نن ورځ د علم النجوم په نامه یو لوی مضمون او حتی فلکي زده کړي او مسائل رامنځته سوي دي(فرهنګ سیاسی در ادبیات تمثیلی ایران و جهان: ۱۰۸).

په ولسي ادب کي انټرنیټ، ټلویزیون او ډیش انټن

د هري اختراع او ابداع اساس لومړی په انساني فکر کي را ټوکيدلی او غوړيدلی دئ، تر ابتدایه پړاونو وروسته يې عملي جنبه پيدا کړې او مجسم سوی دئ.

د جم جام يوه داسي لرغوني اختراع ده، چي د فولکلور، اساطيرو او رواياتو په زرينو پوښونو پوښلی او د افغانستان په تاريخونو کي يې يادوني سوي دي.

د جم جام له يما يا جمشيد باچا سره اړه لري. يما باچا څو معجزې درلودې، چي د ده شاهانه واک او ځواک يې څرګنداوه، چي يوه لکړه، غمی، د سرو زرو سمساره، توره او جام وه.

روايت دئ، چي د جام جم هندسي کرښې درلودې او ددې کرښو ګڼون او د اصطرلاب د دايرو له مخي يې د ستورو لوړوالی او روڼا څرګندول او همدارنګه په دې جام کي د وخت پيښې ښکاره کيدلې دا جام په دې نومو سره موسما وو: جام جم، جام جمشيد، جام جهان نما، جام ګيتي نما، د جم پياله، د سليمان پياله يا ائينې، جام جهان ارا او جام جهانين.

په دغه جام کي د نړۍ ښه او بد معلوميدل او د اوو فلکونو رازونه پکښې ليدل کيده او ددې جام په وسيله د اوو اسمانونو او ستورو ځای او لوړوالی څرګنديدئ او د هرڅه په باب به چي پوښتنه رامنځته کيده، نو د نجومي احکامو په وسيله به په دې جام کي ښکاريدل، يعني د نن ورځي د ګوګل معادل وو.

په يوه بيت کي يې ميرزا خان انصاري داسي يادی کړی دئ:

تجلا به د ارواح وربانديي وشي

ورڅرګند به يو بې مثله جام د جم کا

ښاغلي حبيب الله رفيع ليکي که څه هم ننني علم داسي څه لاتر اوسه نه دي رامنځته کړي، چي کېدای شي د جام جم ته ورته وي او سړي ته د ده له خوښي سره ټوله دنيا ورونښيي، خو کله چي په پرتلنه لاس پوري کړو، نو ټلويزيون له دې جام سره څه ناڅه ورته والی لري او هم ډيش انتن سره شکلي نږديوالی لري او ډيره شباهتونه سره لري (فرهنګ سياسی در ادبيات تمثيلی ايران و جهان: ۱۱۱).

په ولسي ادب کي ټيليفون او ټلګراف

د انسان خلقت داسي سوی دئ، چي دی به په پلټنه او تلاش کي ژوند کوي، ترڅو په انساني ژوند کي سهولتونه رامنځته کړي.

احوال پرسي، پوښتنه او اښتنه له يوې منطقې بلې ته يا له يوه هيواده بل ته ډيره ستونزمنه مسئله وه، حتی ددې چارې له پاره به پخوا وختونو کي له مرغانو هم کار اخيستل کيدئ او له يوې سيمي به يې بلې ته ليکونه په ليږل.

د ټلیفون په اړه زموږ په ولسي ادب کي یوه کیسه سته، چي دا کیسه د پروان او مروان په نامه د دوو ورونیو ترمنځ د ځنځیر غځول وو، چي دا کسان ډیر پخوا تېر سوي دي او د پروان ولایت تر اوسه هم ددې سړي په نامه یادیږي. د کیسي لنډیز په دې ډول دئ. ډیر پخوا دغه د اوسني جبل السراج او بګرام ولسوالیو کي دوو واکنو ژوند کاوه، چي سره ورونه او خوارږه ملګري وه. پروان او مروان دوني سره ګران ول، چي هره یوه د خطر د پیښیدو پر مهال دا بل کمک ورکاوه او په همدې ډول د هر یوه په خوښۍ کي هم دا بل ګډون کاوه، دا رنګه به یې یو بل ته میلمستیاوي هم کولې.
یوه ورځ دوی په تشویش کي سول، چي که چیري کوم بل څوک پر دوی یرغل وکړي، نو څنګه به یو بل سره خبروي! له ډیرو مشورو او فکر څخه وروسته داسي پایلي ته ورسیدل چي د دواړو واکمنیو د پایتختونو ترمنځ به یو اوږد ځنځیر کشوي او په دواړو سرونو کي به زنګولې وربسته کوي، که چیري هر خوا غوښتل چي دا بله خوا خبره کړي، نو د خپلي خوا څخه به زنګولې او ځنځیر ته ښور ورکوي.
د ټلیفون او ټلګراف تر اختراع مخکي داسي یو ولسي ذهنیت وو، چي دې ټکنالوژیو په ډول کار ځني واخلي (فرهنګ سیاسی در ادبیات تمثیلی ایران و جهان: ۱۲۱).

په ولسي ادب کي د رادار مفکوره

سکندر د یونان هیواد نامتو باچا وو. ده له نن څخه شاوخوا دوه زره کاله وړاندي ژوند کاوه. سکندر د نړۍ ډیر شمیر هیوادونه ونیول او ان تر افغانستان پوري را ورسیدئ. سکندر تر افغانستان (پخواني خراسان) لاندي کولو پوري ټول هیوادونه بیله تکلیفه ونیول، خو په دې منطقه کي د خلګو له مقاومت سره مخ سو او کابو څلور کاله یې دلته په جنګ تېر سول.
سکندر ددې جنګ او ملکونو د نیولو له پاره مجهزي وسلي او پوره چمتوالی درلودئ. د تعرض او دفاع له پاره یې لوازم او امکانات درلودل، چي یو له دې څخه د سکندر هینداره وه، په دې اړه ډیر روایتونه هم سته.
داسي ویل کیږي، چي دا هینداره د ارسطو له هنرونو څخه وه، چي د پرنګیانو د حال د څرګندولو له پاره یې د سکندریې د ځلي پر سر -چي د پرنګ په پولو کي د سیند پر غاړي جوړ سوی وو- ایښې وه.
ددې هینداري د جوړښت په اړه قول دادئ، چي په دې هینداره کي تر سل میلو پوري په سمندر کي رواني کیښتۍ لیدل کیدې او هغه ځلی چي دا هینداره پر نصب سوې وه (۱۳۵) ګزه لوړ وو، چي د مرمرو د ډبرو څخه په پوړیز ډول معماري سوه وه.

په تېرو زمانو کې به هينداري له فلزاتو څخه جوړېدلې، سره زر، سپين زر، پولاد او نور توکي به پکښې کارېدل. مقدوني سکندر (۲۳۳۰)کاله مخکې مړ دئ او هيندار يې هم دغوني کلونه وړاندې د ماهيانو سينګار ځای ته ورلويدلې ده، اما په مختلفو روايتونو کې اوس هم ددې هينداري يادوني سته. په پښتو او دري ادب په خاصه تصوفي حلقاتو کې؛ لکه د ميرزا خان انصاري غوندې داسې يادوني سته:

د سکندر ايينه څه شوه

چې ډير پټ په کې اعلام کړم

د همدې هينداري معادل نن ورځ ساينسپوهانو د رادار په نوم اله اختراع کړې ده، چې عين پخوانۍ دنده پر مخ پکښې وړل کيږي، چې دا د فولکلوريکو ذهنيتونو معاصره هستې ده (فرهنگ سیاسی در ادبیات تمثیلی ایران و جهان: ۱۲۲).

په ولسي ادب کې د ماشين جوړولو مفکوره

پخوانيو انسانانو د ژوند په هره برخه کې له صفر څخه تجربې را پيل کړې دي. د کاليو له پاره يې د ونو له پاڼو او د ښکار سوو ژوو له پوستکو کار اخيستئ. د خوړو له پاره يې بوټي، ميوې او کله کله د نورو حيواناتو غوندې اومې غوښې خوړلې او د کورنو پر ځای به په غارونو يا سمڅو کې هستېدل.

د اوړو کولو په برخه کې ئې هم ډير ستونزې درلودې، ځينو انسانانو به د غنمو يا جوارو دانې پر يوې هوارې ډبرې اينبوولې او بيا به يې په بله ډبره ټکولې، چې اوړه سي او د ډوډۍ له پاره چمتو سي.

همدې د ډبرې په مرسته اوړه کولو ته میچن نوم ورکړه سوی دئ. البته دا میچن د همغه لومړنيو انسانانو د فکر محصول ده. يوه خبره چې موږ لا متوجې کوي، هغه د ميچن نومونه ده، چې ماشين له نوم سره خورا ډير نږديوالی لري. دا ساينسفيکشن يوه بله داسې نمونه ده، چې زموږ د ولسي ادب خورا نږدې اړيکې لري (فرهنگ سیاسی در ادبیات تمثیلی ایران و جهان:۱۲۶).

په ولسي ادب کې د بادي ژرندې مفکوره

ميچنې د يوې شپې او که به يې ډير کار په وکړ، نو به د يوې کوچنۍ کورنۍ غله په يوه ورځ و دوو کې اوړه کيدل. اوس نو د يو غټ کور غله به څوني وخت کې اوړه کيدل؟ ددې سره په څنګ کې ميچنې ضايعات هم درلوده او هم يې وخت ډير نيوئ، نو دوی د دې ستونزې د حل او د کار د انکشاف په موخه فکر کاوه، چې بالاخره يې يو څرخ او يو ساده ماشين رامنځته کړ، چې دا نو د بادي ژرندې لومړنی اولسي ايجاد او جوړښت دئ.

د اسلام د خپرولو په موخه څوارلس سوه کاله مخکي عربي فاتحین افغانستان (دغه اوسنۍ جغرافیا) ته راغلل. دوی د ژرندي جوړښت او تخنیک ته حیران او ګوته په غاښ پاته سوه. مورخین یې پخپلو کتابونو کي دا بادي ژرندي د طواحین الریاح په نامه ډېر عجب شان سره یادي کړي دي او خپل خلګ یې د افغانانو له دې اختراع څخه خبر کړي دي.
اوس هم په هرات، فراه، هلمند، نیمروز او نورو سیمو کي ددې ډول ژرندو نمونې سته او کارول کیږي، څکه دا سیمي مني بادونه لري، چي د غبرګولي له ۱۵مي څخه د تلي تر ۱۵ پوري چلیږي، نو دا ډول ژرندي بېمصرفه او کارنده دي (فرهنګ سیاسی در ادبیات تمثیلی ایران و جهان: ۱۳۱).

په ولسي ادب کي د لمریزي هینداري او سپوږمکۍ مفکوره

د سپوږمکۍ یا مصنوعي سپوږمۍ موضوع د شلمي پېړۍ په دوهمه نیمایي کي راپیدا سوې او اوس د مځکي د کُرې پر شاوخوا دوراني مزل کوي.
په اوایلو کي سپوږمکۍ یوازي د عکاسۍ او نورو پراختیایي تخنیکي الاتو سره استول سوې وه، چي له خلا څخه یې جالب عکسونه او معلومات راوړل. وروسته له هغه یې د سپوږمکۍ په وسیله فضا ته د ساه دارانو پر استولو کار پیل کړ. اول حیوان چي فضا ته پورته کړه سو، سپی وو، چي بیا وروسته انسان فضا ته ولاړئ. لومړی روسی کس د یوري ګاګارین په نوم او بیا وروسته د امریکا د متحده ایالاتو فضایي اداره په ۱۹۶۹ زیږدیز کال په دوبي کي د ارم سترانګ په نوم یو کس د فضایي بېړۍ په وسیله د سپوږمۍ کرې ته واستاوه.
د مصنوعي سپوږمکۍ لومړنۍ مفکوره او جوړښت په لرغوني افغانستان (خراسان) کي رامنځته سوې ده. کله چي اسلامي خلافت میراثي سو او د بغداد واکمنو د اسلامي هیوادونو د سیاسي او اقتصادي خپلواکۍ د له پاره زیښناک کاوه. په خراسان یا اوسني افغانستان کي د خپلواکۍ د اخیستلو له پاره غورځنګونه او حرکتونه پیل سوه، چي منظم پروګرامونه یې درلودل. له دې غورځنګونو څخه یو هم د سپین کالیو غورځنګ وو، چي د مقنع خراساني په نامه یوه داسي مشر –چي د بغداد له خلافت سره وران وو- چي په روحاني جامه کي را مښلولی وو. ده د هندوانو د حلول او تناسخ د عقیدې له ګډون څخه یوه په نامه اسلامي طریقه را ایستلې وه، ځان یې د حضرت علي کرم الله وجهه نوی شکل معرفي کاوه او د بغداد له حکومت څخه یې د خپلو خلګو د خلاصون تلاش کاوه.
د ده سیاسي، ملي او مذهبي جبنه به یوې خوا ته پریږدو. دی په عین حال کي کیمیاګر هم وو، یعني د کیمیا په علم کي وارد انسان وو. ده به ځیني کیمیاوي تجربې هم کولې او په دې سره به ده خپل معجزه او کرامات هم خلګو ته ښوول.

مقنع یوه مصنوعي سپوږمۍ جوړه کړې وه، چې هره شپه به د نخشب له څاه څخه راختله. د قرشي د ښار دوره به یې کوله او بیا به بیرته په همدې څاکي لوېدله. د مقنع تر مړینې وروسته چې دا څاه وشنل سو، په څاه کې یوه جیوه یې ښیښه پیدا سوه، چې د ورځې له به یې د لمر څخه انرژي ذخیره کول او د شپې به یې د یوه څرخ په وسیله دوراني حرکت کاوه، چې دې سپوږمۍ به د قرشي ښار رڼا کاوه.

ددې سپوږمکۍ جوړښت له نن څخه کابو ديارلس پېړۍ مخکې دئ، چې په دې خاوره کې اختراع سوې ده او د سیمي او عربو مورخینو د هغې په باب د هېښ او حیرت یاداښتونه کښلي دي او زیاته کړې یې ده، چې د مقنع تر مرګ وروسته بیا دا سپوږمکۍ پورته نه سوه (فرهنګ سیاسی در ادبیات تمثیلی ایران و جهان: ۱۳۴).

ساینسفیکشن په پښتو ادبیاتو کې خورا زیاتي نمونې لري، چې که یې نور هم پر داسې تطبیقاتي اړخونو او بولګو باندې څېړنه کوم، نو مضمون راځخه اوږدېږي.

د بي بي سي راډیو په ښوونیزو پروګرامونو کې د ګاډۍ واني ترور قالینچه هم داسې یو جوړښت دئ، چې موږ یې مثالونه په دیني نصوصو کې لکه د سلیمان علیه سلام د غالۍ چې په هوا کې به یې الوتل په کوای سول، لرو، چې د نن ورځې له طیارې سره سر خوري.

پایله

ساینسفیکشن یو پاراډوکسي ترکیب دئ، چې له ساینس او فیکشن څخه یې تنه جوړه سوې ده. ساینس پر علمي تجربو او فیکشن بیا یو تخیلي او هنري سیک او توان لري. دغه مرکب لغت د تخیلي دنیا ازمایښتي په ساینس ور ګډوي.

د ساینسفیکشن ټکی په اول وار ویلیم ویلسن په ۱۸۵۳ زیږدیز کال پخپل یو کوچني کتاب کې راوړی دئ. اوسمهال یې په انګریزي ادب کې لا نوم کوچنی سوی او د سایفای په بڼه کارول کیږي.

ساینسفیکشن بې له دغه نوموني ډېر لرغونتوب لري او اساس یې په فولکلور کې سته او اوس د پښتو په ادبیاتو او د نړۍ په ادبیاتو کې خورا زیاتي لیکني او ژباړې په سوي دي.

ساینسفیکشن د ساینس او فیکشن له کلیمو څخه جوړ سوی نوم دئ، چې د ساینس د علم او فیکشن د خیالي او داستاني کیسې او ان شعر ته وایي. له کومې ورځې چې ساینس رامنځته سوی خپل اثر یې پر ادب پرېښی دئ او له هغې ورځې چې ادب رامنځته سوی هم یې خپل تاثیر پر ساینس پرېښی دئ، ان تر دې چې د ساینس د ډېرو پرمختګونو اساس او بنسټ د ولسي ادب تومنه ګڼل سوې ده.

په پښتو ادبیاتو کې د ساینسفیکشن لومړنۍ نمونې په ولسي ادب کې خورا ډېرې تر سترګو کیږي اما په لیکني ادب کې اولنی کس چې دا ژانر یې د ژباړې په مرسته پښتو کړی، عبدالباري جهاني دئ.

مناقشه

زما د دې کوچنوټي تحقیق د تکامل په اخره کې د محاورې په ډول دا خبره کوم، چې د ساینسفیکشن په ډول کې هومره کار چې باید سوی وای، نه ترسترګو کیږي. یو ځانګړی اثر چې دا ژانر د پښتو د ادبي دورو یا هم د فولکلوري هستیو پر شننه او تحلیل دې راوڅرخي، خو په هیڅ عنوان نه دئ چمتو سوی. بل لا داچې د دې ژانر په دا شاوخوا دوه پېړۍ عمر کې زموږ مخورو ادباو فقط و فقط د یو ژانر په ډول د خپلو اثارو په پاڼو کې ځیني مقدماتي بحثونه کړي دي.

حال داچې د عربي مورخینو په تواریخو او سفرنامو کې د خراسانیانو (افغانانو) د ملګ د داسي جوړښتونو او ابتکاراتو یادوني سوي، چې د دوی ملتونه ګوته په غاښ ورته پاته دي او په هیښ کې دي. په دې برخه کې تر اوسه پوري د لعل باچا ازمون د (ساینسفیکشن او فولکلور او ادب او فلسفه) نومي اثر کې ځیني هیښمي لیدل کیږي او نجیب منلی او غضنفر هم پخپل ګډ اثر (د ادبیاتو دنیا) کې یو څو پاڼې په دې عنوان توري کړي دي.

په دې څېړنیزه مقاله د پښتو ادبیاتو له شفاهي او تحریري نمونو څخه ګټه پورته سوې ده، کوښښ سوی دئ، چې فقط ځیني غوره بولګې ځني روښانه او په دې نړئوال ژانر کې تطبیق سي. که لا نور هم جزییاتو ته ورشوه سوو، نو بیا به زموږ دا مقاله د یوې رسالې او یا علمي اثر درجې ته واوړي، نو ځکه مو همدومره یادوني ځني وکړې.

یوه بله هڅه دا سوې ده، چې په دې څېړنیزه مقاله کې د ساینسفیکشن او فانتازۍ ترمنځ توپیرونه واضیح سوي او د دوی څخه یکې یوازې ساینسفیکشن په ډیر ښه ډول سره پیژندل سوی او په پښتو ادبیاتو کې یې نمونې وړاندې سوي دي.

اخځلیکونه

1. ازمون، لعل باچا. (۱۳۹۰ ل. ل). د جهاني سمبولیک تمثیلي نظمونه. (کابل مجله ۹-۱۰ ګڼه)، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.
2. ازمون، لعل باچا. (۱۳۹۹ ل. ل). د ادبیاتو فلسفه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست.
3. اورویل، جورج. ژباړن: اسیر، احسان الله. (۲۰۱۹ ز). د حیواناتو فارم. کابل: سروش پلورنځی.

4. ازمون، لعل باچا. (۱۳۹۸ ل. ل). ساینسفیکشن او فولکلور. کابل: د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د ماسټرۍ دورې لکچرنوټ.

5. بارکزی، شفیق. (۱۳۹۹ ل. ل). پښتو ادب او ساینسفیکشن. ناچاپه مقاله.

6. جهاني، عبدالباري. (۱۳۸۱ ل. ل). شپیلۍ. کوټه: صحاف نشراتي مؤسسه.

7. حسیني، سعیده معصومه. الهي، محمد علی فتح. (۱۳۹۳ ل. ل). فرهنګ سیاسي در ادبیات تمثیلي ایران و جهان. تهران: مطالعات فرهنګي تهران.

8. رفیع، حبیب الله. (۱۳۹۰ ل.ل). نندارتون. کابل: رفیع کلتوري او مدني ټولنه.

9. زغم، محب الله. (۱۳۹۷ ل. ل). کبی او مونوکې. کابل: کابل پوهنتون د افغانستان د معلوماتو مرکز (.ACKU).

10. شمیسا، سیروس. (۱۳۸٦ ل. ل). انواع ادبی. تهران: نشر میترا.

11. غضنفر، اسدالله. (۱۴۰۰ ل. ل) د زړو هینداروکور. کابل: مازیګر کتاب پلورنځی.

12. غضنفر، اسدالله. منلی، نجیب الله. (۱۳۹۹ ل. ل) د ادبیاتو دنیا.

13. مللی، مهدیه. (۱۳۹۴ ل. ل). مثل و تمثیل. نمبر چهارم: مجله فرهنګ ایران.

14. موسوی، مصطفی. جمالی، عاطفه. (۱۳۹۱ ل. ل) فانتازی، چیستی و تاریخچه ان در ادبیات جهان و ایران. تهران: مجله ادب فارسی، ګروه زبان و ادبیات فارسی دانشکده تهران.

15. نوري، محمد ګل. (۱۳۸۷ ل. ل). ملي هینداره (اول، دوهم او دریم ټوک). کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

Applications of Science ficaion in Pashto literature

Nazir Ahmad Rishtinay*[1], Ph,D. Noor Ahmad Email[2]
[1,2]Department of Pashto Language and literature, Education Faculty, Helmand University
Email: nazir.ahmad@helu.edu.af

Abstract

Science fiction is a European literary genre, first introduced by Wilson in the early 19th century through a small book. It represents a paradoxical fusion of science and fiction: science is grounded in empirical research, while fiction emphasizes imaginative and artistic elements. This hybrid term examines imaginary worlds through scientific principles. Knowledge is categorized into natural and social sciences. The distinction between them is notable: natural sciences are based on experiments, while social sciences concentrate on social dynamics and character development.

This study focuses on comparing contemporary scientific theories and advancements with concepts found in Pashto folk literature. It demonstrates that modern technological innovations have their roots in the imaginative and inventive ideas of ancient Aryans and Khorasanians, who developed various simple machines and tools for everyday use. Employing descriptive-comparative and qualitative methods, the research concludes that the dynamic and influential aspects of Pashto folk literature continue to resonate with contemporary science, maintaining a significant role alongside it.

Keywords: Science Fiction, Folk Literature, Contemporary Scientific Theories

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

Leed Social Science Acdemic Journal

Volume:1 Issue: 1 Year:2024